
د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل
د انقلاب په اړه له یوه راپور څخه اقتباس
ژباړه: فرهاد ویاړ



د ۱۹۴۹ کال د پسرلي ورځې دي. «ليوسيانګ» کلی په بی اعتمادئ او اندېښنې کې ډوب دی. خلك ډېر کم له خپلو کورونو راوځي؛ يوازې د ګومينډان سرتيري په کوڅو کې ګزمه کوي.



ليوسيانګ د «يانګ تسه» د زيړ سيند تر څنګ واقع او د «کيانګ بين» د ناحيې اصلي تمځای ګڼل کيږي. دا کلی د دې لپاره چې د چين د شمال او سويل په لاره کې واقع شوی له پوځي پلوه ډېر زيات اهميت لري. د خلکو آزادي بخښوونکی پوځ له سيند څخه د تيريدلو لپاره چمتو شوی دی. د همدې لپاره د ګومينډان ارتجاعي پوځ د سيند د لا ښه څارنې لپاره په دې کلي کې قرارګاه جوړه کړې ده.



د دښمن سرتيري له ټولو هغو مسافرينو څخه د سيند له شمالي څنډې په جاله کې راځي، پوښتنې او ګرويږنې کوي.



هغه افسر چې د دې پيغلې انجلۍ مخه نيولې، د دښمنانو د قرارګاه نوی قوماندان «هئو ـ کين پيائو» دی. هغه، د انجلۍ په لاس کې کڅوړې ته اشاره کوي او په اوچت آواز وايي: «په کڅوړه کې دې څه دي؟» انجلۍ بې له دې چې کومه خبره وکړي په سپکاوي سره کڅوړه د هغه د پښو مخې ته تشوي.



افسر، کله چې په ځمکه توي شوي ممپليويني، خوله يې له اوبو ډکيږي او وايي:«ممپلي پريږده او په خپله له دې ځايه ورکه شه.» انجلۍ په حسرت سره ممپلو ته ګوري او کڅوړه راتاويي او د تخرګه لاندې يې نيسي او دکلي په خوا روانيږي.



انجلۍ د څو کيږليچونو وروسته د خوراکي توکو يوه پلورنځي ته رسيږي. د پلورنځي ځوان شاګرد د خپل خور په ليدنې سره په خوشالۍ چيغه کوي:«خورې، بالاخره راغلۍ!»

د پلورنځي مالک هم د هغې هرکلي ته راوځي.



دا پلورنځی، اصلاً د یوې مخفي او پټې ډلې د اطلاعاتو مرکز دی چې مالك یې «چانګ کانګ وان» د ډلې مشر او لارښود دی. «کیانګ تا ـ پئو» د هغه شاګرد د خپل خور «کیانګ چه ـ پنګ» سره، دواړه د هغه رابط مامورین دي.



قوماندان چانګ، بهر ته په ځغلنده ګوري، آرامه آرامي ده. بیا دروازه ځان پسې تړي او درې واړه اوچت پوړ ته ځي. چانګ له انجلۍ تپوس کوي:«ښه، څه خبرې دي؟» چه پنګ هغه ممپلی چې د کځوړې په درز کې پټ کړی، راوباسي او وایي:«دا هم د یانګ تسه برخې د شورا هدایت.»



چانګ، د ممپلی دانه په احتیاط ماتوي. له هغې څخه یو تاوشوی کوچنی شانتی کاغذ راوباسي او خلاصوي یې. د لیک په لوستلو سره یې په سترګو کې ځلا څرېکه وهي.



دواړه، خور او ورور، په بیړه تپوس کوي:«ژر وکړه، موږ باید څه وکړو؟...» چانګ په موسکیدلو شونډو،هغوې ته خبر ورکوي چې د ولس پوځ یوه مهمه برخه به ډېر ژر له «یانګ تسه» څخه تیر شي او بیا زیاتوي:«ډېر مهم ماموریت یې موږ ته راسپارلی دی. موږ باید د سیند په غاړه کې د دښمن د پټنځایونو نقشه چمتو کړو.»



چانګ په ټینګار سره وایي:«دا ډیر مهم کار دی! د دې لپاره اهمیت لري چې په دې کار سره دښمن نابودیږي او زموږ ګرانو ملګرو ته د تیریدو لاره پرانیزي.»



چانګ د لاسونو په خوځولو سره خبرو ته ادامه ورکوي او پر میز باندې د څو پیالو او د اورلګید د څو کڼکو په ایښودولو سره وایي:«دا د سیند څنډه ده، دلته هم بندر دی او دلته هم ښهره ده او دلته هم...» چه پینګ د هغه خبرې غوږخوي او وایي: «اوهووو! اوس پوه شوم! دا ځایونه چې را ښکاره کوئ دا دښمن مرچلونه دي.»



د شپې تیاره خپره وه، د چانګ نقشه ورو ورو بشپړیدله. یوازې یوه سیمه تشه پاتې وه او هغه له ښار ځمکې څخه تر ساحل پورې فاصله وه. تاـ پائو نقشې ته په اشارې سره وايي:«څو ورځې کیږي چې دښمن په پرله پسې ډول دې سیمې ته تیري انتقالوي او هیڅ چا ته اجازه نه ورکوي چې دغه ځای ته نژدې شي.» چانګ له لږ فکر وروسته پوښتنه کوي:«امکان لري چې دلته د دښمن سلاح کوټونه وي؟»



خور او ورو په هیجان سره وايي:«ډیر ژر باید دا موضوع روښانه کړو!» چانګ هم د تایید په ډول خپل سر خوځوي او درې واړه د عملیاتي نقشې په چمتوالي بوختیږي.



په سبا يې چانګ او  تا ـ پائو د کار جامې اغوندي، د غرمې ډوډۍ د سرتيرئ په يوې ديګچه کې ړدي او د هغو ګڼ شمير کارګرانو منځ ته ځي چې دښمن په شړه ځمکه کې د پوځي تاسيساتو جوړولو لپاره په زور کار ته ګمارلي دي.



کله چې هغوې د دښمن له پهره دارۍ تيريدل، قوماندان پر چانګ غږ کوي او وايي:«اربابه ته هم نن راغلی!» «هئوکين ـ پيائو» چې د دښمنانو يو افسر و، پام يې د هغه خبرې ته اوړي، غوړونه بوڅوي. چانګ چې تابيه کړی چې رول ولوبوي. ځواب ورکوي:«هو، بالاخره يې اړ کړم چې دلته د راتللو لپاره خپل دکان وتړم.» او ادامه ورکوي:«هيله کوم له خپل آمر څخه وغواړی چې اجازه راکړي خپل پلورنځي ته ستون شم.» هئوکين پيائو بی له ځنډه چيغه وهي:«ټوکی کوئ! ناشوني ده! هله تيز کار ته لاړ شه!»



چانګ او تاپائو د کار په ځای کې خپلو ملګرو ته خاوره وړي. هئو، یوه دقیقه هم له هغوې سترګې نه لیرې کوي. د کار له ځایه لیری کیدل ناشونی ده.



څو شیبې وروسته د کارګرانو یوه ډله بلوا جوړوي. ځینې د اعتراض په ډول وایي:«مونږ ماشینونه نه یو، له مونږ نه د ماشین سره هم ښه چلند کیږي، په ماشین کې تیل اچول کیږي، مونږ ته ان یو ګیلاس اوبه هم نه راکوئ.» یوه بله ډله هم راپاڅیږي او وایي:«که مونږ ته اوبه رانکړئ، مونږ هم نور کار نه کوو.»



هئووکیو د تیارسۍ حالت نیسي. مخکې له دې چې وضعه خرابه شي، هغه باید بلوا غلې کړي! ښه موکې ده! چانګ په بیړه لرګی په خپل اوږې ږدي، د سطلونو لاستی نیسي او په بیړه د سیند خوا ته ځي.



چانګ بی له دې چې له کوم خنډ سره مخامخ شي، له ښړې ځمکې تیریږي او د سیند څنډې ته رسیږي. هلته خپله شاوخوا ګوري، کږې وږې کندې ویني، ځمکه ورته غیر عادي په نظر ورځي. له ځان سره وايي:«دا د چمن ټوټې دلته څه کوي؟ معلومه ده چې د ځمکې دا برخه له نورو برخو سره فرق لري!»



چانګ په داسې حالت کې چې د بیرته راتګ وخت کې خپل قدمونه شمیرل، خپلو ملګرو خوا ته راستنیږي. د ځمکې اوږدوالی ۲۴۰ متره دی، یعنې دښمن غواړي په دې ځمکه کې پټنځایونه او مورچلې جوړې کړي.



د دښمن د ګارد سرتیری د وسلې په زور غواړي چې بلواګر کارګران بیرته په کار بوخت شي. په همدې موکه کې چانګ له لارې رارسیږي. هئو، ورځخه په عصبانیت پوښتي:« تا ته چا اجازه درکړه چې هلته لاړ شئ؟» چانګ ځواب ورکوي:«دوې اوبه غوښتلی، ما هم له دې ویرې چې داسې نه چې بلوا وکړي، دوې ته له سیند نه اوبه راوړلئ.»



هئو چې د هغه له خوب څخه قانع شوی ښکاریده، په اوچت آواز وایي:« بل ځل دې ونه وینم چې دا کار تکرار کړئ.» او بیا مخ کارګرانو ته راګرځوي او وایي: «هر چا چې له دې وروسته بې اجازې د کار سیمه خوشې کړه، بې له ځنډه د ښکمن په توګه نیول کیږي.»



چانګ او تاپائو وروسته له دې چې له کار څخه پلورنځي ته راستانه شول، په خپلې نقشې کار پیلوي. چانګ په داسې حال کې چې په نقشه کې په یوې ښکمنې سیمې باندې د پوښتنې لویه علامه ږدي، وایي: «بې له کوم شکه باور لرم چې دښمن خپلې مورچلې همدلته جوړې کړي دي. مونږ باید څیړنې ته ادامه ورکړو.»



یوه ورځ سهار، چه یینګ په بیړه پلورنځي ته راځي او چانګ ته خبر ورکوي:«هئوکین ـ پیائو نوي مقررات وضعه کړي دي چې له دې وروسته هر څوک چې د سیند په شمال کې ژوند کوي، خو د کار سیمه یې په سویل کې ده، که څه له ځان سره ونلري کولای شي د سیند له لارې خپل کاله ته ستون شي؛ خو هغه څوک چې دې خوا ته ژوند کوي، له سیند څخه د تیریدنې حق نلري.»



لومړنی پوښتنه چې د هغوې ذهن ته راځي، دا ده چې له دې مقرراتو سره څرنګه باید نقشه د سیند بلې غاړې ته ولیږي. درې واړه ملګري په دې اړه فکر کوي. له څو شیبو وروسته، د چه یینګ مغزو ته یو فکر راځي. درې واړه پریکړه کوي چې دا فکر پلي کړي.



د هماغه ورځ له غرمې وروسته هغو مسافرينو چې غوښتل د سيند بلې غاړې ته لاړ شي، له دقيقې تلاشۍ او ګروېږنې وروسته په جاله کې سپريدل؛ خو جالوانه لا نه ده راغلې. هئوکين ـ پيائو د بندر تر څنګ ودريدلی او انديښمن دی، له ځان سره وايي: «آه، دا لعنتۍ چيری ورکه شوی ده؟» په دې وخت کې چه يينګ په منډه منډه په داسې حال کې چې ساه يې سوزيده او د جالې راشپيل يې پر اوږه و، رارسيږي او چيغه وهي:«دا دی راغلمه، راغلمه!»



چه يينګ جاله ته دانګي او بی له ځنډه په ټول توان سره راشپيل وهي، جاله حرکت کوي.



هغه راشپیل په دواړو لاسونو کلک نیسي، ځکه چې په کې نقشه پټه ایښودلی شوی ده. موسکا یې پر شونډو خپریږي او جاله اصلي لورې ته بیایي.



څو ورځې وروسته دښمن احساسوي چې د هرې ورځ په تیریدو یې موقعیت خرابیږي. نو تصمیم نیسي چې هغه یوازینی جاله چې په تګ راتګ کې ده، ودروي. چانګ تل له ځان سره فکر کوي:«که ونشو کړای د پټو پوځي تاسیساتو نقشه لاس ته راوړو، څه باید وکړو. څنګه باید اړین اطلاعات چې ملګري ورته دومره  سترګې په لاره دي، هغوې ته  ولیږو....»



چانګ په دې فکرونو کې ډوب دی چې یوځل د دنګې ونې سړی له خولې او چپن سره راننوځي او د هغه د فکرونو لړۍ غوڅوي. چانګ، خپله شاوخوا ګوري، کله چې ډاډمن کیږي چې څوک نشته، په ورو آواز چې په کې خوشالي څپه وهي پوښتنه کوي: «د قرارګاه قوماندانه! ته ما نه پیژنۍ؟»



چانګ د هغه لاس په مینې کلک نیسي او په حیرانتیا ورته وایي:«ګرانه لي! دا ته یې!» کله چې چانګ د ولس د آزادي بخښونکی پوځ د قرارګاه قوماندان و، لي د هغه رابط مامور و. خو اوس دا پخوانی همجنګیال، په خپله د یانګ تسه سیند څخه د تیریدلو لپاره د پیژندنې د یوې ډلې د مرکز افسر و.



لي هغه ته وايي: «چانګ، ګرانه ملګری، قوماندان مې زه دلته رالیږلی یم چې تاسو سره کار وکړم، موضوع د دښمن د تاسیساتو په اړه ده چې ....» په همدې موکه کې د موزو آواز د هغوې پام ځان ته راړووي.



چانګ وایي:«پام دې وي! دوې د ګومیندان سرتیري دي...» لي فوراً غبرګون ښيې، یوه بشپړه زرګري دعوا په لاره اچوي، هغه چیغه وهي:«ښاغلی! ته نه یوازې نه مني چې پوروونه دې غوڅ کړی، ما ته کنځلی هم کوئ. خو دنیا داسې نه پاتې کیږي.»



بیچاره ارباب لا په غوسه کیږي او وایي:«ته بی څایه ما تر فشار لاندې نیسئ. یو څه هم زما ستونزو ته فکر وکړه! غواړئ چې زما دار و ندار ټول ویسئ؟» تاپائو په موکې رارسیږي څو د منځګړي نقش ولوبوي.



کله چې هئو، هتی ته دننه کیږي له دعوا پرته بل څه نه ویني. لي، بی له دی چې هغه ته په قضیه د پوهیدلو وخت ورکړي، رامخکې کیږي او وایي:«افسره، په سم وخت راورسیدئ، زه درپسې درتللم.» او بیا په داسې حال کې چې سګریټ ورته نیسي خپلو خبرو ته ادامه ورکوي او خپل ځان معرفي کوي:«زه «لی چانګ ـ منیګ» د «تاکانګ» شرکت مدیر یم.» او خپل ویزت کارت ورته ښکاره کوي.



لي د خپلې دعوا په اړه افسر ته شکایت کوي. مزاحم افسر چې د دې اختلاف وړ مسئلو څخه ګنګس شوی دی، فکر کوي چې ښه به وي، ځان وباسي، د همدې لپاره هغوې ته مخ اړوي او وايي: «د یانګ تسه د ساتنې لپاره ماموریت راسپارل شوی دی، وخت نلرم چې ستاسو په کارونو کې ځان بوخت کړم.» بیا راستنیږي او خپلو سرتیرو سره له دروازې وځي. هغه هیروي چې تذکرې وګوري.




کله چې د دښمن مامورین لاړل، دری واړو ملګرو په آرامه خیال سره وخندل، چانګ پلورنځی تاپائو ته سپاري او له لي سره لوړ پوړ ته ځي.



دوې په لوړ پوړ کې د نقشې په پلی کولو کار پیل وکړ. کله چې د کار طرحه چمتو شوه، ورور او خور خپل کوچني کور ته چې د سیند تر څنډې و، ستنیږي. هغوې ټوله شپه د خپلو ملګرو په مرسته سترې لامبوزنې دري پایانې جوړوي.



توره شپه ده، آسمان له وریځو ډک دی او سخته سیلۍ ده؛ څلور ملګري په دوو ډلو ویشل کیږي. چانګ او لي له اغزن سیم تیریږي او د دښمن په مورچلونو کې نفوذ کوي.



هغوې د دښمن د رڼا اچونکي څراغ په مرسته کله په سینه او کله کږوپ او کله په منډې سره حرکت کوي. له یوې ګړۍ پرمختګ وروسته، چانګ د قطب نما په مرسته خپل لوری ټاکي، هغوې کټ مټ په ممنوعه سیمه کې دي.



هغوې د دښمن نهه ښکاره مورچلونه په ښه توګهویني. خو پاتې یې لا د لیدلو وړ نه دي.



د برید شیبه رارسیدلی ده، ځو تور ټکي د اوبو پر سر لیدل کیږي، ناڅاپه د یوې ډزې آواز د شپې چوپتیا ماتوي. د دښمن افسران او سرتیري وارخطا کیږي او نه پوهیږي چې څه وکړي.



د دښمن سرتیري چې په وسلو او مهماتو سمبال دي، په بیړه ځانونه مورچلونو ته رسوي. د نهه بریدیزه مورچلونو څخه، هم مهاله، د سیند په لورې ډزې کیږي او د څه شیبه وروسته د هغوې د ډزو په ځواب کې د چاودونو آواز د سیند له لورې اوریدل کیږي.



هئو، چې په مورچل کې پټ شوی دی، فکر کوي چې د کمونیستانو پوځ چمتو شوی چې په پټه له سیند څخه تیر شي، د همدې امله خپلو سرتیرو ته دستور ورکوي چې په سیند کې پر تورو ټکو چې فکر کوي د کمونیستانو جالۍ دي، ډزې وکړي.



د توغندیو لمبه، د پټو مورچلونو سیمې ښکاره کوي، لي ورو پوښتنه کوي:«دا څه ډول وسله ده؟» چانګ ځواب ورکوي: «لمبه اچونکی دی.» او ادامه ورکوي:«باید متوجه ووسو، داسې نه چې اوضاع زموږ په تاوان تمامه شي.»



هغوې له یو بل سره په ورو غږېدل چې ناڅاپه تور ټکي په سیند کې اور اخلي. «باید له وخت نه په استفادې سره، په بیړه له دې ځایه لیرې شو.»



هڅو کله چې ډاډه کیږي چې د دښمن جالۍ یې سیزلي دي، له خپل پټنځای راوځي او د خپلو سرتیرو سره د سیند خوا ته منډه اخلي.



د دښمن سرتيرو کله چې د هغو جالو پر ځای چې د ليدلو تمه يې درلوده، درې پايانې پيدا کړې چې ورته د اوسپنې سلطونه ځوړند وو او په منځ کې سوې پټاقې پرتې وې چې لا يې لوګی پورته و، ډېر حيران شول.



هئو يله پوه شوی و چې په لومه کې وليدلی دی او د پټو تاسيساتو سيمه يې دښمن ته ښودلی ده. د دې لپاره ډېر قهرجن و، خپلو سرتيرو ته دستور ورکوي چې ټول ځايونه ولټوي!



لي او چانګ د شته ګڼې ګوڼې په کارولو سره، روغ رمټ پلورنځي ته رارسيږي. تاپائو او چه ـ يينګ د درې پايانو د کلکولو او د دښمن د خبرولو په موخه د څو هوايي ډزو وروسته، په بېړه د خپلو ملګرو سره يوځای کيږي.



هئو نوی د قشلې قوماندانۍ ته راستون شوی و چې تلفن زنګ ووهو. د دښمن د قوماندانۍ مرکز د پيښې په اړه له هغه پوښتنه کوي. هئو غواړي پيښه توجيه کړي او مرکز ته وايي چې د کمونيست پوځ جالی يې وپيژندلی،خو شاتګ او تيښتې ته اړ شوی. له هغې خوا ورته ويل کيږي:«بېړا، تا ته چا ويلي وو چې د پټو وسلو څخه کار واخله؟ که په دې کارونو سره دې د تاسيساتو ځای دښمن ته ښودلی وي، څټ دې غوڅوم.»



دوو ملګرو د شپې په تیاره کې سترګې ښخې کړي او له ځان سره فکر کوي: اوس، د دښمن د مورچلونو ځایونه پیژنو. خو دا پاتې کیږي چې څنګه لي چانګ د سیند له دې خوا شمالي څنډې ته تیر کړو، ځکه چې ټول بندرونه دښمن تړلي دي.



د لنډ فکر وروسته، چانګ یوه لاره چاره پیدا کوي او وایې: «کوړ خولې کیئو یو پوچ قمارباز دی او له هر څه نه پیسې ډیرې خوښو لري. موږ اکثره له هغه سره قطعه بازي کوو او هغه موږ ته تل د ګټورو اطلاعاتو سرچینه ده. ښه به دا وي چې یوځل بیا د هغه په اړه خپل چانس وازمایو.»



کیئو د هغوې بلنه مني، خو ډیر ډاډمن نه دی، د همدې لپاره په داسې حال کې چې لوړ پوړ ته جګیږي څو ځلې پوښتنه کوي:« ډاډه یې چې مونږ یوازې یوو؟» چانګ ځواب ورکوي:«دلته څوک نشته، بې له ډاره کولای شې خبرې وکړې.» کیئو په غوړه مالۍ سره خپلو خبرو ته ادامه ورکوي:«زه د قشلې رئیس مامور کړی یم چې له تا ملاتړ وکړم.» چانګ د دې «ملاتړ» په مفهوم ښه پوهیږي، خو ځان په نانګارو اچوي او د «معاملې» په اړه خبرې پیلوي.



چانګ وایي:« په دې اوضاع او حالاتو کې له سوداګرۍ پوزې ته رسیدلی یم.» بیا په موسکا سره یو بغلي ساعت کیئو ته نیسي چې هغه په خوب کې هم لیدلی نشو او ادامه ورکوي: «دا ساعت مې د خپلې وروستې ګټې سره اخیستی او ډاریږم چې نور شاید د داسې معاملې تر سره کول راته په نژدې کې نا شوني وي.»کیئو په داسې حال کې چې ساعت اخلي، وایي: «دا ټول له دې سره تړاو لري چې....»



چانګ له دې موضوع ګټه پورته کوي او زياتوي:« مونږ د سيند څخه په تيريدنې کې له ډيرو ستونزو سره مخامخ يو.» کيئو په داسې حال کې چې هغه ته نژدې کيږي، وايي :«د دې موضوع په اړه انديښنه مه کوه! سبا زما د پهرې وخت دی. په وخت سره يوه شمعه د لارې د خلاصيدو په نښه لګوم او درته علامت درکوم!»



چانګ بيا له هغه پوښتنه کوي:« مونږ بايد له کوم ځای حرکت وکړو؟» هغه ځواب ورکوي: «د ختيځ ښامار د دهانې څخه». چانګ ورته وايي:«ښه! پوه شوم.» کيئو خپل لاسونه سره مښي، او له دې چې داسې يو ساعت يې تر لاسه کړی دی او يوه نوې معامله ورته انتظار باسي، دومره خوشاله کيږي چې له ياده يې ځي چې له چانګ سره يو لاس د دمينو لوبه (د لرګينو مرو سره يو ډول لوبه) وکړي.



لي په موسکیدلو شونډو له څنډې خونې راوځي او له چانګ پوښتنه کوي:«فکر کوئ چې په دې سړي اعتماد کولای شوو؟»
چانګ ځواب ورکوي: «نه! خو کولای شوو له هغه استفاده وکړو، باید جګړه ایز چال وکارو او د دښمن پام ختیځ ته واړو څو پر لویدیځ برید وکړو.»



په سبا، د شپې د راورسیدو سره سم، چانګ لومړی لي او چه یینګ له مخکې نه ټاکل شوي ځای پورې ورسول، یعنې کټ مټ د هغې سیمې عکس، چې کیئو ځانګړی کړی وه. بیا په خپله په بیړه اصلي «قرار» ته ورځي.



همدا چې د دښمن د ګزمې بېړۍ تېرېږي او له لیرې علامت ورکول کیږي، لي او چه یینګ له نی څخه جوړه شوی بېړۍ د واښو له لاندې راوباسي او اوبو ته يې اچوي او د شپې په تیاره کې ور په کې سپریږي او د سیند بلې خوا ته حرکت کوي.



هئو چې د پهره دارۍ په ځلي کې دی، د شمعې کمه رڼا چې له نژدې پټنځای څخه پر سیند لګیږي، ويني او غواړي  په دې پوه شي چې دا د څه شئي رڼا ده. د همدې لپاره په بیړه له برج څخه راکښته کیږي او د څو سرتیرو سره د هغې پټنځای لورې ته ځي چې کیئو يې ساتونکی دی.



چانګ ورو ورو د قرار سیمې ته نژدې کیږي.



چانګ د هغه چا په شان چې د هئو د لیدلو منتظر وي، د هغوې هرکلي ته ورځي او وايي :«تابیه مې کړې چې د یوې معاملې لپاره له سیند څخه تیر شم، په دې معامله کې سرګروپ کیئو مې هم شریک دی، خو دې اندیښنې چې د مقرراتو خلاف چلند کوم، اړ کړم چې د خپلې برنامې تیر شم. د دې لپاره له تا معذرت غواړم.»



افسر چې له قهر څخه لیونی شوی دی، چیغه وهي:«ښه، داسې ده نو! ته د پارتیزانانو ملګری یې او له هغوې سره د یوځای کیدو لپاره دی غوښتل چې له سیند څخه تیر شئ، فکر کوئ چې زه د قضیې په سر او بر نه پوهیږم.» چانګ ځان متعجبه ښکاره کوي او وايي: «که باور نه کوئ، له سرګروپ پوښتنه وکړه، هغه راته علامت راکړ چې لاره خلاصه ده.» چانګ د خپلو خبرو په لړ کې د ساعت قضیه هم هغو ته وايي.



هغو نور ډیر څه اوریدل نه غواړي او خپلو کسانو ته دستور ورکوي چې چانګ د قوماندان دفتر ته ویسي، په خپله هم کیڅو ته ورځي.



کیئو چې د شتمن کیدو خوبونه لیدل، د خپل آمر په لیدلو سره کلک ټکان خوري، د یوې شیبې وروسته هڅه کوي چې پر ځان واکمن شي، خو یوازې کولای شي د توتړي په شان ووایي :« هئو.... هئو..... قوماندان هئو.....»



هئو په داسې حال کې چې شمعې ته اشاره کوي، پوښتي:«دا شمعه د څه لپاره ده؟» کیئو د خبرو کولو جرأت له لاسه ورکړی دی. خو له ځان سره فکر کوي چې سوداګری دومره بد کار نه دی. له دې فکر وروسته، په وارخطایي وایي :«هو، زه د یوې معاملې لپاره د چانګ سره شریک.....»



خو هغه وخت نه مومي چې خپله جمله پای ته ورسوي، ځکه چې د غوږ په بيخ کې دوه څپېړي خوري او خبرې ورته غوځوي. هئو چيغه وهي:«پسته ناقابله! ښه نو ته د دې خوراکي توکو پلورنځي له مالك سره شريك يې، خائنه تو کومې خوا ته يې؟» کيئو چې د مرګ له ډار څخه رپيږي، ناچاره کيږي چې بدل ساعت له جيب څخه راوباسي.



هئو بی له دې چې خبرې وکړي، ساعت اخلي او کيئو له سر څخه تر پښو پورې تلاشي کوي او د هغه ټوله شتمني چې يو څو بی ارزښته وړې سکې کيدلی، په خپل جيب کې اچوي او دستور ورکوي:« دستګير يې کړی! ويسئ!»



هئو له هغه ځایه څخه د قوماندان دفتر ته ځي. کله چې چانګ ویني، په ګواښونکی آواز ورته وایي:« داسې ښکاري چې ته په سرګروپ کیئو باندې تور پورې کوئ او دا لا څه کوئ، غوښتل دې چې د ماموریت د تر سر کولو لپاره له سیند څخه هم تیر شئ!» چانګ چې پوهیږي چې د خپلو خبرو د اثباتولو لپاره کوم سند نلري، بی ځنډه ځواب ورکوي:«خو دا په خپله کیئو و چې ما ته یې د کار دستور او لارښوونه کوله.»



هئو چې متوجې کیږي چې غشی یې په ګټه لګیدلی دی، له ځان سره فکر کوي چې لږ تر لږه یو څخه خو له چانګ څخه وشکوي، د همدې لپاره بیا وایي:«تا وویل چې کار او کسبګري کوي؟ ښه نو، پیسې دې چیرې ایښودلي دي؟» چانګ چې د ټولو شیانو وړاندوینه کړې ده، یو بنډل پیسې له خپل جیب څخه راوباسي او په سپکاوی سره د هغه مخې ته نیسي.



هئو په داسې حال کې چې ټولې پیسې په خپل جیب کې بردي، په بیړه وایي: «ضبط شوئ!» او بیا انګولاوی جوړوي: «که بل ځای مې ونیولی، نو زه به دې خوښ شم.» بیا ضابط ته دستور ورکوي: «بهر یې کړه!»



کله چې چانګ دباندې راځي، هئو خپله خوشالي نشي پټولی. خو ځو شیبې لا نه تیرېږي چې یو څه یې فکر ته راځي او له ځان سره وایي:«دې بقال زه دوکه کړی یم، شرط وهم چې دا ننداره یې له دې لپاره جوړه کړی وه چې خپل ملګري زما له نظره پټ کړي.» په داسې حال کې چې په بیړه د سیند لورې ته درومي، خپلو کسانو ته دستور ورکوي: «راپسی راځئ!»



لي او چه يينګ په دې ټوله موده کې بی له دې چې يوه شيبه هم ضايع کړي، په ټول توان سره راشيبل وهي او مهمه نقشه له ځان سره د سيند هاخوا ته وړي.



چانګ بی له دې چې د کوم خنډ سره مخامخ شي، راستون شوی دی. هغه او تاپائو په تيارې کې په ځيرتيا سترګې خښې کړي، تر دې چې د سيند له هغې خوا د يوه څراغ رڼا ويني چې د شپې تروړمه څيروي، دا رڼا د دې علامت دی چې لي او چه يينګ بريالي شوي او شمالي ساحل ته رسيدلي دي.



د خلکو آزادي بخښونکی پیاوړی پوځ د یو میلیون سرتیرو سره لکه د یوه ستر توپان په شان په ټول ځواک د یانګ تسه پر سیند حرکت کوي. هیڅ څوک او هیڅ ځواک نشي کولای د هغه په وړاندې مقاومت وکړي. ټول خلک له هغوې سره دي او په ګډه مبارزه کې به د ګومیندان ولس ضده او ارتجاعي پوځ نابود کړي.

## "سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳-زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵-ډېر ترویج، ډېر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ – د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷-ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

۱۸ ـ آواز (جوئن بایز ـ تیکن جا فاکلی ـ باب مارلی)، فرهاد ویاړ

۱۹ ـ د لیبرالیزم ضد مبارزه، مائوتسه دون، ژباړه: سرمد

۲۰ – له سترې هیوادنې جګړې څخه څینې داستانونه، ژباړه: فرهاد ویاړ

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي



میتد
چپرندویه

۱۳۹۲